مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۲/۱۰/۱۱

زموږ نسلوژنه ریښتیا ده!

موږ ریښتیا له نسلوژني او Genocide سره مخامخ یو. زه په دې پسې نه ګرځم، چې نړیوال معیارونه یې مني، که نه؟ خو زموږ وضعیت همدا دی، چې ټولې نړۍ لاس یو کړی او افغانوژنه کوي.

افغانان کټ مټ داسې دي، لکه د کلیسا د توري واکمنۍ او بیا د فاشیستو واکمنو پر مهال چې یهودان وژل کېدل، ژوندي ژوندي سیزل کېدل او د انسان سوزوني په داشونو کې سوکړۍ کېدل...

یوازې توپیر دومره دی، چې د کلیسا د دوزخونو ځای پاکستاني مدرسو نیولی دی او د فاشیستي ځواکونو ځای تکفیري ډلو.
دونیا داسې دسیسه جوړه کړې ده، چې هر افغان ووژني، خو په خپلو لاسونو یې قتل کړي، د ځینو له خوا ځینې نور کافر کړي او بیا یې قتل عام کړي.

همدا چې یو قوم وایي: موږ جینوسایډ کیږو بل څوک نه، همدا چې د یو بل ګریوان ته مو لاسونه اچولي، چې ته ولې د خپل قتل چیغې وهې او زما قتال او رواني ویني نه وینې، دا پخپله د عاموژني د نړیوالي دسیسې یوه برخه ده.
د هویت شخړې جوړول او افغانستان قومي جګړو ته ورټېل وهل د نړیوال Genocide نوی او خورا ګواښمن میتود او تکنیک دی.

اوربدلي مې وو، چې هغه مهال یې د انسان سوزولو په داشونو کې یهودي ماشومان نه سیزل، خو نن په یویشتمه پېړۍ کې نوی فاشیزم اویا - اتیا ماشومان په یوه چاودنه کې لولپه کوي.

نړۍ لاس سره یو کړی چې افغانان تر روستي افغان پورې یو د بل پر ضد وجنګوي. د نوي فاشیزم دسیسې پېچلې شوي دي، پخوا یې د (دین) او (توکم) په جرم یو شمېر انسانان وژل، اوس یو شمېر انسانان د (دین) او (توکم) په وسله و وسیله وژني.

د قربانیانو په شعور کې هم د زمکې و اسمان توپیر دی:
بېوطنه او پېړۍ پېړۍ کډوال (دیاسپورا) یهودانو ملي شعور رامنځته کړ، سره یو شول، د ټینګ یووالي قسم یې یادکړ، د ښځو او نرو تعلیم ته یې مخه کړه، په علمي ډګرونو کې یې سیالي پیل کړه، د نړۍ لوی فیزیکپوهان، اقتصادپوهان، ټولنپوهان، اروپوهان و... پوهان یې وروزل. بانکونو ته یې مخه کړه، د نړیوال اقتصاد نبض یې په لاس کې ونیو او ځانونه یې په وچ زور د وطن خاوندان کړل... نن په نړۍ کې لومړۍ خبره همدوی کوي.

دېخوا د نن زماني د جینوسایډ تر ساتور لاندې راغلي افغانان ورځ تر بلې په خپل و خپلخانو سره ویشل کیږي، بهرمیشتي یې هېوادمیشتو نه ګیله من دي او هېوادمیشتي یې بهر میشتي فراریان او (څه و څه) بولي. دنیایي علم (ساینس) حرام یا مباح ورته ښکاري، اقتصاد و بانکوالي له کفر سره مشابهت ګڼي، د یووالي خواته تللو ته بېغیرتي او بدعت وایي. د ښځو وجود، زدکړه او کار سوچ کفر ګڼي، تر ټولو (نر) او (غیرتي) هغه دی، چې بل (قوم) ته غلیظي او ښې غاښ ماتوونکي ښکنځلې کولای شي.

هو ! موږ یې دې برید ته رارسولي یو.
هغه ښاغلي، چې لا هم د افغانانو عاموژنه Genocide نه مني، مهرباني دې وکړي، بل نوم خو دې ورته پیدا کړي.
اوس به بیا په دې تکراري پوښتنه ځانونه خلاصوو، چې:

- حلاره وښیه، څه باید وشي؟
او زه به بیا دا پوښتنه کوم، چې:
- مهرباني وکړئ، له څلویښتو میلیونو څخه یو میلیون پر یوه لار سره تللی او متحد کېدلای شئ؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ